**بسم الله الرحمن الرحیم**

## له امتحان او غلبېلېدو وروسته څه پېښېږي؟

**(ژباړه)**

عبدالله بن عمرو بن عاص رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې ويې فرمايل:

**«يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ زَمَانٌ يُغَرْبَلُ النَّاسُ فِيهِ غَرْبَلَةً، تَبْقَى حُثَالَةٌ مِنَ النَّاسِ، قَدْ مَرِجَتْ عُهُودُهُمْ وَأَمَانَاتُهُمْ وَاخْتَلَفُوا، فَكَانُوا هَكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ» (رواه ابوداود/3840)**

**ژباړه:** *ډېر ژر به هغه وخت راورسېږي چې خلک به غلبېل کېږي او کم ارزښته انسانان به پاتې کېږي، هغه چې عهد او میثاقونه یې ګډوډ شوي او په اختلاف کې راګېر شوي دي (د الله پیغمبر خپلې ګوتې له یو بل څخه تېرې کړې) او ويې فرمايل، د دغو ګوتو په څېر.*

د شيخ عبدالمحسن بن حمد العَباد په حواله په شرح ابوداود کې راغلي: «يُغَرْبَلُ النَّاسُ فِيهِ غَرْبَلَةً» يعنې خلک امتحان او ازمويل کېږي، ترڅو نېک خلک له ناوړه خلکو څخه بېل شي او کم‌ارزښته انسانان د غنمو او اوړو د غلبېلولو پرمهال د هغو وښو او پوستکو په څېر دي، چې په غلبېل کې پاتې کېږي. خالص مواد لاندې تويېږي او پوستکي يې د غلبېل له سوریو نه وځي او پاتې کېږي. پر همدغه اساس هغه کسان چې پاتې کېږي، په حقیقت کې د ناخالصو موادو او د غنمو د پوستکو په څېر دي، چې د غلبېل له سوریو نشي وتلی او هېڅ خير پکې نشته دی.

دغه تشبيه داسې کس کړې چې د نفس له هوا څخه نه دی غړېدلی، بلکې د امت اوسنی وضعيت يې په لنډ ډول بيان کړی دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم د شام او هغو پېښو په اړه چې هلته رامنځته کېږي او همدارنګه د عراق، مصر، يمن، سوډان او نورو اسلامي خارو په اړه، چې اوسېدونکي يې خپل رب ته ژاړي او چيغې وهي، خبره کوي؛ هغه ځای چې امت د ابتلاء او ازموينې په غلبېل کې غلبېلېږي او د خپل دين پر اساس امتحان او ازمويل کېږي، ترڅو د ايمان د مدعيانو هغه اصلي څېره بربنډه کړي، چې له دين څخه ناوړه استفاده کوي او د خپلو عايدو سرچينه يې ګڼي. همدارنګه د ټولو «خوړژبو» منافقينو رښتينی هويت څرګند کړي؛ لکه د اوبو پر سر هغه ځګ چې له منځه ځي او يوازې هغه څه پاتې کېږي چې خلکو ته ګټه لري.

هو نن ورځ واقعيت دا دی چې امت امتحان او ازمويل کېږي، ترڅو له هر ډول عيب او نيمګړتيا څخه پاک شي او چټلۍ او ناپاکۍ ورڅخه لرې شي؛ په دې توګه يوه پاکه او خالصه ډله پاتې شي او هغه مهال به پر دوی د

الله سبحانه وتعالی نصرت او بریا نازله شي؛ ځکه د الله سبحانه وتعالی نصرت یوازې د پاکو او پرهېزګارو خلکو په برخه کېږي. نو اې د رسول الله صلی الله علیه وسلم امته! صبر غوره وکړئ، ځکه له تاسو سره د نصرت او خلافت ژمنه شوې ده.

اې ربه! موږ ته د نبوت پر منهج راشده خلافت راپه برخه کړه، چې په واسطه یې د مسلمانانو ستونزې او سختۍ حل او بلاوې او مصیبتونه ورڅخه لرې شي. اې ربه! په خپل کریم نور سره ځمکه روښانه کړه. اللهم آمین آمین!

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**